هفته نامه
# تحصیلات عالی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: p.r_office@mohe.gov.af

شماره صدو بیست و ششم - سال هشتم- ثور -۱۳۹۸ ه. ش

## سیستم نوبت دهی در مرکز پذیرش وزارت تحصیلات عالی افتتاح شد






# سیستم نوبت دهی در مرکز پذیرش وزارت تحصیلات عالی افتتاح شد

با افتتاح سیستم Token یا نوبت دهی در مرکز پذیرش وزارت تحصیلات عالی شفافیت و سرعت بیشتر در عرضه خدمات برای مراجعین به عمل آمد.



پوهنمل دکتور نجیب الله خواجه عمری وزیر تحصیلات عالی در حالیکه معینان و رووسای ادارات مرکزی این وزارت نیز حاضر بودند، با افتتاح سیستم متذکره گفت که به کار گیری سیستم Token در مرکز پذیرش باعث می گردد تا نظم و سرعت کار در انجام امور مراجعین بهتر گردیده و شفافیت مطمئن نیز در زمینه تامین گردد.

با نصب این سیستم مراجعین تکت اخذ نموده و به نوبت به غرفه های مربوطه شان مراجعه می نمایند که با این کار از هجوم مراجعین و بی نوبتی در نزدیک غرفه ها جلوگیری شده و میزان کار در هر غرفه نیز ثبت می گردد.



وزیر تحصیلات عالی از تلاش های ریاست تکنالوژی معلوماتی در این زمینه تشکر نموده جهت استفاده سالم و معیاری از این سیستم به مسوولان هدایات لازم داد.

مرکز پذیرش وزارت تحصیلات عالی در بخش های محصلان، کانکور، بورسیه ها، ارزیابی اسناد خارج مرز و سایر بخش های مربوط این وزارت فعالیت داشته که روزانه صدها تن جهت انجام کار های شان در این مرکز مراجعه مینمایند.





# ننګرهار پوهنتون کې څېړنيز کلکسيون او نندارتون جوړ شو

د پوهنتون د مسؤلينو په وينا، په دغه دوه ورځني علمي او تحقيقي نندارتون کې ددې پوهنتون د ترسره شويو ۱۸۰ تحقيقونو د پايلو تر څنګ د ننګرهار ولايت د خصوصي پوهنتونونو، علمي مرکزونو او صنعتي ادارو څېړنې او توليدات ننداري ته وړاندې شول.

په همدې اړه جوړه شوې غونډه کې د ننګرهار پوهنتون د رئيس، مرستيالانو، د بېلابېلو پوهنځيو رئيسانو، استادانو او محصلينو سربېره د ننګرهار د ولايتي ادارې او خصوصي پوهنتونونو مسؤلينو، مدني فعالانو، صنعتکارانو، فرهنګيانو، قومي مشرانو او د رسنيو مسؤلينو برخه لرله.

د څېړنيز کلکسيون پرانيستغونډې ته د وينا پر مهال د ننګرهار پوهنتون رئيس پوهنمل ډاکتر يحيى فهيم وويل: د خوښۍ ځای دی، چې ننګرهار پوهنتون نن د داسې يو علمي پروګرام کوربه دی، چې د هېواد په کچه سارى نه لري.

د نوموړي په وينا: په دې دوه ورځني څېړنيز ننداړتون کې د نورو ادارو سربېره د ننګرهار پوهنتون د استادانو د ۱۸۰ ريسرچونو پايلې د غونډو، ندارو او پريزنټېشنونو په بڼه له ګډونوالو سره شريک شول.

ښاغلي فهيم د پوهنتون د علمي څېړنو کمېټې د مسؤلينو او ټولو هغو ادارو څخه، چې ددې کلکسيون په جوړولو کې يې هلې ځلې کړي د منني ترڅنګ د پوهنتونونو له استادانو، محصلينو او ټولو هېوادوالو غوښتنه وکړه، چې په دې علمي پروګرام کې پراخ ګډون وکړي او له دې اکاډميک فرصت نه پوره ګټه واخلي.




د ننګرهار پوهنتون د علمي څېړنو کمېټې مشر پوهنوال ډاکتر سيد ضياءالحق بنوري، د ملي تحريک ګوند مشر او د کابل پوهنتون استاد پوهاند دوکتور محمد اسماعيل يون د غونډې نور ويناوال وو، چې د خپلو ويناوو پر مهال يې د دغه ډول علمي پروګرامونو پر ارزښت او موخو خبرې وکړې.

د غونډې په پای کې د پټې په پرې کولو سره څېړنيز کلکسيون پرانيستل شو او ګډونوالو په غرفو کې ايښودل شوي توکي او دغه راز د پوهنتون په بېلابېلو تالارونو کې په علمي غونډو او مناظرو کې ګډون وکړ.